BRITISH COUNCIL

## د تاوده هرکلي تحصيلي بورسونه (Warm Welcome Scholarships Information – Pashto)

د تاوده هرکلي بورسونو طرحه ور کسانو ته د هراړخيز ملاتړ وړانديز کوي ترڅو په انګلستان کې لوړې زده کړې پوره کړي.

د تاوده هرکلي تحصيلي بورسونو طرحه په انګلستان کې د ور کسانو د ملاتړ لپاره په لاره اچول شوې کوم چې د افغانستان سره تړون لري ترڅو لوړو زده کړو ته لاسرسی ومومي.

پس منظر

د انګلستان حکومت د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر په اوله نيته د " تاوده هرکلي " عملياتو اعلان وکړ ترڅو د هغو کسانو ملاتړ وکړي کوم چې د ځانګړو عملياتو له لارې انګلستان ته کډه شوي تر څو روغتيايي آسانتيا ، تعليم او دندې ته لاسرسی ومومي او په بشپړ ډول په ټولنه کې يوځای شي.

د دې ملاتړ کڅوړې د يوې برخې په توګه، چې د ښوونې او روزنې رياست (DfE) لخوا تمويل شوې د تاودههرکلي بورسونو طرحه رامينځته شوی ترڅو د اغيزمنو خلکو سره مرسته وکړي او په انګلستان کې د ليسانس اوماسټري بورسونو ته لاسرسی ومومي.

د ښوونې او روزنې رياست (DfE) د برټش کونسل سره په ملګرتيا کې د انګلستان په کچه د دې طرح لپاره د شريک په توګه کار کوي.

### د تحصيلي بورسونو په هکله:

د تاودههرکلي بورسونه د ور کسانو ملاتړ کوي ترڅو د انګلستان د لوړو زده کړو مرکزونو کې د لاندې دريو کچو کې د بشپړ وخت په توګه زدکړې ترسره کړي:

- ليسانس: په سکاټلينډ کې د دريو يا څلور کلونو لپاره
- ماسټرۍ: د يو کال لپاره
- PhD: د دريو کلونو لپاره

په طرحه کې دوه جلا پروګرامونه شتون لري:

- د ور کسانو لپاره کلنۍ (د کال دننه) بورسونه چې دا مهال په انګلستان کې زده کړې کوي
- د ور کسانو لپاره د بشپړې دورې (درجې) بورسونه چې خپلې زده کړې به په سپتمبر/اکتوبر ۲۰۲۲ کې پيل کړي.
- 

مهرباني وکړئ دا انټرنټي پاڼه وګورئ ترڅو نور معلومات ومومئ پشمول د بورسونو د برنامو بشپړ توضيحات، د وړتيا معيارونه او څنګه غوښتنه وکړئ.

د تازه معلوماتو لپاره نوم ثبت کړئ او د تاودههرکلي د بورسونو پروګرام په اړه د برېښناليک له لارې تازه معلوماتو ترلاسه کړي.

A Department for Education-funded scheme

HM Government

**کلنی بورسونه**

د تاودهرکلي تحصیلي بورسونه - کلنی بورسونه د انګلستان په تحصیلی مرکزونو کې شامل شویو وړکسانو (پوهانو) لپاره مرستي چمتو کوي ترڅو د لګښتونوسره مرسته وکړي.

د تاودهرکلي کلنی بورسونه په انګلستان کې د هغو وړکسانو (پوهانو) لپاره شتون لري کوم چې د افغانستان دي او دا مهال د انګلستان په لوړو زده کړو مرکزونو کی شامل دي.

مرستي د دې تعلیمي کال (۲۰۲۱/۲۲) تر پای ته رسیدو پورې د شته لګښتونو لپاره شتون لري ، او تر هغه پورې به دوام ومومي ترڅو چې دوي دا اوسني زده کړی بشپړی کړي.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې هغه کسان (پوهان) چې د کال دننه پروګرام لپاره غوښتنه کوي د بشپړی دوری (درجې) پروګرام لپاره به د غوښتنلیک لپاره وړ نه وي.

د تاودهرکلي کلنی بورسونوعمومی کتنه

| | |
|---|---|
| **لنډيز** | دا برنامه به وړکسانو (پوهانو) ته مالي مرستي چمتو کړي ځوک چې دا مهال په انګلستان کې د لیسانس ، ماسټری یا PhD په کچه کې د لوړو زده کړو مرکزونو کې زده کړې کوي. |
| **د شته بورسونو شمیر** | په کال کی تر ۱۰۰ پورې بورسونه |
| **د وړتیا معیارونه** | پوهان باید د وړتیا معیارونه پوره کړي او دا مهال په انګلستان کې د لوړو زده کړو مرکزونوکي د بشپړ وخت درس ویلو پروګرام کې شامل وی. غوښتنلیک ورکوونکي باید د بورسیه لپاره د غوښتنه کولو دمخه د خپل د لوړو زده کړو د مرکز موافقه ولري او د مالي ارزوني ترسره کولو لپاره تړون ولري.<br><br>. مهرباني وکړئ د وړتیا معیارونه وګورئ. |
| **د تمویل (مالی مرسته) شتون** | بریالي کسان (پوهان) به د استوګني او د ژوند لګښتونو لپاره دري میاشتنی مرسته ترلاسه کړي. مقدارونه په انګلستان کې د جغرافیایي موقعیت او د درس کچې پورې اړه لري. لومړی پیسي به د جون میاشت ۲۰۲۲ کال کې ورکړل شي اونیته به یی د مې میاشت ۲۰۲۲ کال ته شاته واچول شی کوم چې د غوښتنلیک د پیل وخت کیږی. |
| **د تمویل (مالی مرسته) موده** | تمویل به تر هغه وخته دوام وکړي تر ځو چې پوهان اوسنی درسونه بشپړ کړي. د هغو کسانو (پوهانو) لپاره چې زده کړې یې په اکاډمیک کال ۲۳/۲۲ او هاخوا کې دوام لري، مالي مرسته به د درس تر پای پورې په اعظمي ډول دوه اضافي کلونو لپاره دوام وکړي - یا دری اضافي کلونه که په سکاټلینډ کې د لیسانس دوری درسونه پوره کوی. |
| **د زده کړي او نور درس فیسونه** | د ښوونې او نورو کورسونو فیسونو تادیه کول به په هغه تړون پورې اړه ولري کوم چې هراوسنی کس (پوهان) د خپل د لوړو زده کړو له مرکز سره لري، له همدې امله غوښتونکي باید ډاډ ترلاسه کړي چې د دوي تحصیلي مرکز د دوي د غوښتنلیک ملاتړ کوي. که څه هم بورسونه په دې اساس ورکړل شوی چې د لوړو زده کړو برخه اخیستونکي مرکزونه به د پوهانو سره مرسته وکړي ترڅو خپلې زده کړې بشپړې کړي، او د نورو کورسونو فیسونو تادیه کولو وړتیا به د بورسیه شرط نه وي. |
| **د غوښتنلیک پروسه** | پوهان د خپل غوښتنلیک په آنلاین ډول برټش کونسل ته وسپاري. لومړني شخصي او د درسی پروګرام معلومات ورکول به اړین وي. پوهان به اړتیا ولري چې دوی د اوسني د لوړو زده کړو د مرکز، د درسي پروګرام ، د پروګرام د کچه او د بشپړیدو نیټی توضیحات ورکړي. د مراجعوورکولو، تحصیلي اسنادو (ترانسکرپټ) یا نورو اسناد |

| | |
|---|---|
| | چمتو کولو ته اړتیا نشته. غوښتنلیکونه به د محدوي مودي یعني د دوو اونیو لپاره خلاص وي او د سپارلو (لیږلو) په ترتیب کتل کیږي، لومړي غوښتنلیکونه چې ترلاسه شوي لومړی به کتل کیږي. کله چې غوښتنلیک ترلاسه شي، برټش کونسل به د لوړو زده کړو مرکز سره اړیکه ونیسي ترڅو د پوهانو پیژندنه، وړتیا او مالي ارزونه تایید کړي. |
| **د تخصیص پروسه** | هغه کسان چې د وړتیا اړتیاوې پوره کوي او څوک چې د دوی غوښتنلیک د دوی د لوړو زده کړو د مرکز لخوا یی ملاتړ شوی وي هغوي ته به بورسیه ورکړل شي. یوځل چې دا ۱۰۰ بورسونه ټول ورکړل شي ، نور بورسونه به نه ورکول کیږي. |
| **د تادیاتو میکانیزم** | پوهان به خپلي مرستي په مستقیم ډول د دوی د لوړو زده کړو له مرکز څخه ترلاسه کوي. مالي مرسته به په ربعوار ډول (په هرو دریو میاشتو کې) د دوی د زده کړی تر پای پوري ورکول کیږی. |
| **د بورسونو شرایط** | د بورسونو بریالی اخیستونکی باید خپل ملاتړ شوی کورسون تکمیل کړي. هغه در بورسونو لرونکی چې د خپلو کورسونه د تکمیل څخه مخکی و ایستل شي د هر موجه دلیل له مخی د هغو مالی حمایت به هم و دریږی او هغوی به مکلف وي چې د نورو زده کړو لپاره او همدارنګه د خپل استوګنی مصرف چې د نا بریالی کورس په جریان تفاهم نه وی پری شوی په خپله ورکړي. د بورسونو لرونکی نه شوی کولای چې خپل کورس و ځنډوي او یا خپل زدګړی د ټاکل شوی مودې څخه اوږدی کړي مګر په خاص حالتو کي لکه ناروغي او یا حمل لرل. هر تمدید به د قضیه په قضیه مطالعه له مخی ورکړئ شي او حد اکثر به یی یو کال وي. بشپړه تعهد او شرایط به د کورس د پیل په وخت درته وړاندی شي. |
| **درخواست وکړئ** | د کال د ننه بورسونو لپاره به د غوښتن لیکونو لړی په ۹ د[می][2022] پیل شي.ګدون وکړی تر څو چی د فورمونه د پیل له لړی څخه د <u>خبر ایمل</u> تر لاسه کړئ. |

**راتلونکی ګامونه**

د تاوده هر کلي لپاره به غوښتن لیکونه د 09-22 د[می][2022] منل کیږي. غوښتنه باید په مستقم ډول بریټش کونسل ته وشي د انلاین غوښتنلیک په واسطه چه په دغه ویب پاڼه کی موجوده وي.

<u>ګدون وکړی تر څو د بریښنالیک تازه مالومات تر لاسه کړی </u> د تاوده هرکلی د بورسونه د طرحی د پروګرام او د غوښتن لیکونو د پیل کیدلو خبرتیا.

موږ تاسو هڅوه چې غوښتنلیکونه د پیل سره سم غوښتنه وکړی ځکه چې غوښتنلیکونه باندی غور د هغو د تر لاسه کولو په ترتیب کیږي.

ګډون وکړی ترڅو چی په ویبنار کی په ام اس افیس ټیم کی د جمعه په ورځ 6 [می][2022] په 10:00د بریتانیا په وخت وصل شی. تاسو به وکولای شی چی لا زیات مالومات او پوښتنه مطرح کړی د تاوده هرکلی د بورسونه په هکله.

**اړیکه**

موږ خپلو ټولو احتمالی غوښتن کوونکو ته مشوره ورکوه چی ځان د دغه ویب پاڼی له مالومات سره اشنا کړي او ګډون وکړی تر څو د مالومات تازه بریښنالیکونو تر لاسه کړي. دا به مو ډاډه کړی چی تاسو د نوموړی پروګرام په هکله ټول تازه مالومات تر لاسه کړي. که تاسو لا هم بریالي نه یاست چې د علاقه وړ مالومات پیدا کړی نو هیله ده دغه ایمل آدرس ته ایمیل وکړئ.

scholarships_info@britishcouncil.org

**د پشپړی درجې بورسونه**

د تاوده هرکلي د بشپړی درجی بورسونه په شرایطو برابرو غوښتنونکو ته د لاس رسی وړ دي چی غواړی خپل زده کړی په یو نوی پروګرام کی دلته په بریتانیا په یوه پوهنتون کی ترسره کړي.

**د تاوده هرکلي د بشپړی درجې زده کړی په شرایطو برابر کسانو ته مالي ملاتړ برابر کړي دلته په بریتانیا کی چی افغان دي هغو چی فارغ شوی نه دي یا ماستر او یا دوکتورا غواړي تر سره کړي په 2022/23 د تحصیل کال په پیل کی په [سپتمبر اواکتوبر د 2022] کال کی.**

د تاوده هرکلی د پشپړی درجی د بروسونو پروګرام په واسطه به د بورسونه خاوندان ته د هر ثلث لګښت د استوګنی او همداراز د ژوند لګښت ورکړی شي. د لوړو زده کړو ګډونوال به د تدریس او د کوروسونه نور لګښت تر لاسه کړی د خپلو زده کړو په جریان کی.

د تاوده هرکلی د بشپړی درجی بورسونه عمومی کتنه

| | |
|---|---|
| **لنډیز** | دا پروګرام په شرایط برابرو د بورسونه خاوندان چی غواړی خپل زده کړی د لیسانس یا ماستر او دوکتور به برخه کی چی سپتمر او اکتوبر د 2022 کال کی پیل کیږی مکمل وخت دي مالی لګښت برابر کړي. |
| **د موجود بورسونو تعداد** | تمه ده دی 200 په خواه شا کی بورسون د لاس رسی وړ وي. |
| **د وړتیا معیارونه** | د بورسونو غوښتونکی باید د شرایط د معیارونه سره برابر وي هغو جی غواړی د لیسانس او ماستر او یا دوکتور په برخه کی په مکمل وخت کی زده و کړي.<br>غوښتونکی باید مالي ملاتړ کونکو د خپل کډون څخه مخکی له د چی کډون وکړي اطمینان ورکړي. مهربانۍ وکړی د شرایطو معیارونو و ګوری. |
| **د لمړیتوب شامل پروګرامونه** | د بورسونو غوښتونکی کولای شی چی هر رشته ته غوښته وکړی که څه هم د تاوده هر کلی د بورسونو پروګرام به ځینی رشتو ته اولویت ورکړی وي هیله ده اولویت ورکړل شوی رشته دلته وګوری. |
| **شته تمویل** | د بورسونه خاوندان ته به د استوګنځي او ژوند کول لګښت ورکړی شي د لګښت مبلغ په بریتانیا کی د جغرافیوی اړخه  او زده کړو د کچی په اساس محاسبه شي لمړی پسی به دوی ته په شروع کي ورکړی شي او نوری پیسی به دوی ته د ثلثپه اساس د دوي د زدکړو په جریان کی ورکړی شي. |
| **د تمویل موده** | د تمویل موده به د کورسونه تر ختم پوری ادامه پیدا کړی د ماستری لپاره حدا اکثر۱1 کال د لیسانس او دوکتورا لپاره ۳ کال او یا که په سکالنډ کی وي تر ۴ کالو ادامه پیدا کړي. |
| **د تدریس او د کورس نور لګښت** | د لوړو زدکړو وړاندی کونکی به په ګدنوالو ته د تدریس او د کورس نو لګښتونه اماده کړي. |
| **د غوښتنلیک پروسه** | کډون کونکی به لومړی د حضوری زدکړو لپاره برابرونکو ته غوښتنه کوي چی دوي هوډ لري چی د تادوده هرکلی بوروسونو تر لاسه کړي. د لوړو زدکړو برابرونکی به هغوي ته احوال ورکړی چی دوی په دی برخه کي حمایت کوي که نه. هغه علاقمندان چی مالی ملاتړ یی شوي وي بیا کولای شي چی تادوه هر کلي د بورسونو د طرزالعمل له مخی خپل غوښتنلیکونه تسلیم کړی او هغه کورسونه چی مالی ملاتړ یی شوی وی په ډاګه کړي. |

| | |
|---|---|
| **د تخصیص پروسه** | ټول غوښتنلیکونه چی په معینی شوی موده که تر لاسه به ارزیابی شي د بورسونه دی معیار لپاره که په دی طرحه ډیرو کسان ګډونه کړی وو نو بورسونه به هغو کسانو ته چی لوړی نمره ولری او لوړو زده کړو د برابرونکو د معیار سره ښه سمون ولري ورکړی شي. |
| **د پیسو د ورکړی جوړښت** | پیسی به په مسقیم ډول د لوړو زدګړو د برابرونکو له لورو ورکړی شي البته په هر ثلث (هر ۳ یاشتو) کی البته د ټول کورس تر پای. |
| **د بورس شرایط** | بریالي د بورسونو تر لاسه کوونکی باید خپل کورسونه بشپړ کړي هغه کسان چی مخکی له بشپړیدو ویستل شي یا هغه کسان چی د لوړو زده کړو د برابرونکو له خواه په هر دلیل اجازه پیدا نه کړی چی خپلی زده کړی په مخ یوسي د هغو مالي لګښت به بند شي او هغو به مکلف دي چی مخکی تګ لپاره خپل مصارف ورکړي او همداراز د خپل ژوند لګښت چی د دوی له ایستل مخکی تعین شوی وو. د بورسون لرونکی اجازه نلري چی خپل زده کړی له ټاکل شوی مودی و ځنډوي مګر دا چی روغتیای ستونځه ولري او یا هم حمل. هر تمدید به د قضیه په قضیه د څیړنه له لاری و ارزول شي او د ورکړل کیدونکی تمدید دوره زیاته تر یو کاله وي. |
| **غوښتنه** | غوښتونکی با د لوړو زده کړو برابرونکو ته د 2022 کال د [می] میاشتی به پیل کی غوښتنلیک واستوي البته هر کله چی لوړر زدکړو د مرکزونه نوملړ اعلان شي. غوښتنلیکونه د ملاتړ شوي بورسونو لپاره به د 2022 کال د [جون] په ورستیو کی خلاص شي. د لازیاتو او تازه مالومات لپاره ګډون وکړی. |

**بعدی ګام**

<u>ګدون وکړی چی د برښنالیک تازه مالومات تر لاسه کړی</u> د تادوه هرکلی د بورسونه د پروګرام په هکله تازه مالومات و همداراز د خبرتیا ایمل کله چی غوښتنلیکونه پروسه پیل شي.

همداز په ویب انیر کي ګډون وګړئ په (MS TEAMS) کی د جمعه ورځ 13 د [می] د 2022 کال په 10:00 بجود بریتانیا په وخت تر څو چی تاسو وکولای شي چی لازیات مالومات تر لاسه او کومه پوښتنه لری د بشپړی تحصلی درجه په هکله هغه مطرح کړی.

**د زدکړو پروګرامونه چی په لمړیتوب کی دي**

د بورسونه غوښتنونکی چی د بیلابیل ریشتو لپاره غوښتنه کوي هغه رشتو ته به د تادوه هر کلی د د بورسونه د پروسی له مخی لمړیتوب ورکړل شي.

غوښتونکی کولای شي هره رشته ولولي مګر د مکملی درجی د بورسونو لپاره به غوښتنلیکونه په لومړیتوب کی قرار و نیسی ولی محدود به نه شي البته د لاندی ذکر شوی رشتو لپاره کوم چی د غوښتنونکو لپاره د کاری زمینی د مساعد والی له اړخه او همداراز د پیسو د ګټلو له اړخه او همدا راز دلته به بریتانیا که د کمبود له اړخ ټاکل شوي دي.

- زراعت خواړه او اړونده زدکړی
- د فارنزیک زدکړی
- صحت او عامه روغتیا
- تعلم او تربیه
- تکنالوژی
- ریاضیات
- کمپوټر
- انجنیری
- کیمیا
- فارماکولوجی، توکسیکالوجی او فارمسی
- فزیک او استرانومی
- طبی علوم
- روغتیا
- نرسنګ او میدوایف

**د شرایطو معیارونه**

مخکې له دې چې تصمیم و نیسئ چې تادوه هرکلی د بورسونه لپاره غوښته وکړئ لمړی باید دا وګورئ چې تاسو به شرایط برابر یاست یا نه.

د تادوه هرکلی د بورسونه علاقمندان باید په لاندې ذکر معیارونو برابر وي.

1. د استونګی د معیار وضعیت

په شرایط برابر کسان د پروګرام لپاره په واجدو برابر د بریتانیا د پوهنتونو لپاره هغه کسان دي چې په لاندې کټګوری کې شامل وي.

1. د افغانستان د تخلیه او همکاری پروسه (آرپ).
2. د افغانستان د کړو د بیا میشته کولو پروسه (ای سی ار سی).
3. هغه کسان چې له افغانستان سره تړاو لري او له مخکې په پوهنتون کې دي او په افغانستان کې د وضیعت د بدلونه سره د مالی ستونځو سره مخامخ دي.
4. افغان بریتانویان (ای بی ان اس) هغه کسان د پیتنګ عملیات په ترڅ کی ویتسل شوي او هغوی به هر ډوله کورنو کې میشته شوی او یا ښاروالیو ته د بې کوره کسانو په نوم ور پیژندل شوی مګر د بریتانیوی شهروندی لرونکی او هغه کسان ته اجازه ورکړی شوی ده چې په بریتانیا کې ژوند و کړی پاتی شي پرته له د چې اړتیا د پاتی کیدول اجازه ته.

که تاسو به دغو یوه کتګور هم نه یاست نو متاسفانه تاسو د تادوه هرکلي بورسونو ته په شرایطو برابر نه یاست.

تاسو کیدای شی وغواړی چې په بریتانیا که زدکړو ویبپاڼه ولټوی د لا زیاتو مالومات او تمویل د مراجعو لپاره.

2. د کورسونه د معیار شرایط

د کال د ننه بورسونه

د تادوه هر کلی د کال د ننه د بورسونه لپاره د شرایط د برابروالی لپاره تا باید:

- برحاله د مکمل وخت د زده کړو محصل و اوسی د لیسانس، ماستری او یا هم د دوکتورا د کچې.

که تاسو خپل تحصیلی پروګرام په روان کال ختم کوي تاسو کولای شی چې لوړو زدکړو د یوکلن پروګرام او یا هم د مکمیل تحصیلی درجه لپاره د 2022 کال د [سبتمبر او اکتوبر میاشتو] پیل کیدونکو پروګرامونو ته وړاندیز وکړی تاسو په شرایطو برابر یاست. دا تصمیم باید تاسو و نیسی چې ایا یوکلن پروګرام ولولی او یا لیسانس او ماستري او یا دوکتورا ولی تاسو دوه رشتو ته غوښتنه نه شی کولای.

د بشپړی درجې تحصیلی بورسونه

د تاوده هرکلی د مکملی درجې د تحصیلی بورسونو ته د شرایط د برابر والی لپاره تاسو باید:

- تصمیم ولرئ چې غوښتنه وکړی یا مو له پخواه غوښتنه کړی د هر رشته لپاره د لیسانس یا د ماستری او یا هم د دوکتورا په کچه د بریتانیا د لوړو زدکړو د برابرونکو ته چې د 2022 کابل [سپتمبر او اکتوبر میاشتو]کې پیل کیږي.